رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

# د غوثِ اعظم
# نظرِ کرم

16-November-2021



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښي کيدونکے

د سُنّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د غوثِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نظرِ کرم

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي وروڼړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي.

ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

**صحابِي** رسول حضرت ابو طَلحه انصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د يو ځل واقعه ده چې د سحر په وخت كښې د **الله** پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نوراني مخ باندې د خوشحالئ آثار وو، صحابه كرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ ترينه د سبب تپوس اوكړو نو اوئې فرمائيل: **الله** پاک پيغام راليږلے دے: اے **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو اُمَّتي چې په تاسو يو ځل درود شريف لولي، زه به د هغه د پاره لس نيكئ ليكم، د هغه لس ګناهونه به ختموم، او د هغه لس درجې به اوچتووم او هم دومره رحمتونه به پرې

ليږم.[1]

اُن پر دُرود جن کو کسِ بےکَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے [2]

**وضاحت:** **هغه** خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كوم چې د بےاَسرو اَسره منلے كيږي، كوم چې د هر بےخبره خبر لرَلو والا دے، په هغوئي دِ درود و سلام وي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه **مخکښې** ښه ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ " رښتينے نِيَّت بهترين عبادت دے.[3]

**اے عاشقانِ رسول!** نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

❀ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوكړئ او نور دا نيتونه اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شي د ډډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ د علم زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ د بيان په دوران كښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو كوشش كووم.

---

1 ...مُسنَدِ اَحمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔
2 ...حدائقِ بخشش، صفحه:209۔
3 ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

# مقامِ ولایت طے کولو کښې مدد

**خوږو اسلامي وروڼو!** حضرت پیر سید مهر علي شاه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د پاکستان مشهور و معروف شخصیت دے، په ګولړه شریف (راولپنډي) کښې به اوسیدلو، سیّد زاده هم دے، ډیر زیات ښه عالم دین هم وو، او ولي کامل هم دے.

1925ء کښې چې کله د پیر مهر علي شاه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عمر مبارک 66 کاله وو، په دغه دَور کښې به په هغوئي باندې یو کیفیت طاري کیدلو، که یواځې به وو او که د خلقو په مینځ کښې به وو بس هر وخت به ئې خاموشي اختیار فرمائیله، لږ لږ ساعت پس به ئې یو د خفګان شان اسویلے کولو او سر به ئې پورته کړو، د مخ مبارک رنګ به ئې کله زیړ شو، او کله سُور. د خپل معمول مطابق به ئې د دوو ګنټو د پاره د خلقو ملاقات له تشریف راوړلو خو په محفل به خاموشي خوره وه، د هغوئي مریدانو یا عقیدتمندو به چې کله دا حالت اولیدو نو بعضې وخت به په ژړا شو خو د پیر مهر علي شاه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه دا کیفیبت مسلسل قائم وو.

هم په دغه زمانه کښې ملتان شریف کښې اوسیدونکي یو سید صاحب ته په خوب کښې د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه دیدار نصیب شو، حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د پیر مهر علي شاه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دې کیفیت په باره کښې تسلّي ورکړه او اوئې فرمائیل چې: مهر علي شاه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د ولایت یو خاص مقام طے کوي، دې مقام طے کولو وخت کښې د مشائخو (یعني اولیائے کرامو) امداد هم نه راځي خو په دې مرحله کښې یو صاحب (یعني ځپله حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه) مسلسل د هغوئي مدد او رهنمائي کوي.[1]

---

1...مہرِ منیر، صفحہ:324۔

وہ رُتبہ ترا ہے کہ جتنے ولی ہیں | سبھی تیرے زیرِ قدم غوثِ اعظم

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقان رسول! دا دے حضور غوثِ اعظم...!! غور اوکړئ! اولیائے کرام هغه بلندې هستئ دي چې خلقو ته څه مشکل پیښ شي، څه پریشاني ورپیښه شي نو خلق د اولیائے کرامو دربار ته حاضرېږي او د خپلو مشکلاتو د حل درخواست ورته کوي خو د داسې شان و عظمت، د داسې مقام و مرتبے نه قربان چې کله اولیائے کرامو ته مشکل پیښ شي نو د هغوئي مدد کولو د پاره پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه کرم فرمائي.

معلومه شوه چې د **حضور غوثِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه **روحاني توجه**، د هغوئي نظر کرم هغه نظر دے چې لوئے لوئے اولیائے کرام د هغوئي د نظرِ کرم محتاجه دي. سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکي:

تُو ہے وہ غوث کہ ہر غوث ہے شیدا تیرا | تُو ہے وہ غَیث کہ ہر غَیث ہے پیاسا تیرا (1)

**وضاحت**: یعني اے زمونږ غوثِ پاکه! تاسو هغه غوث، هغه مددګار ئې چې د ټولې زمانے غوثان، د زمانے مددګاران ستاسو عاشقان، او ستاسو عقیدتمند دي او تاسو د باران هغه اوبه ئې چې ټخپله باران هم ستاسو تږے دے.

یو بل مقام باندې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي:

کوئی سالِک ہے یا واصِل ہے یا غوث! | وہ کچھ بھی ہو ترا سائِل ہے یا غوث!

**وضاحت**:اے غوثِ پاک! یو بنده چې د ولایت د لارې مسافر وي یا د ولایت لوئے مقام ته رسیدلے وي، غرض دا چې که څوک په هر مقام باندې وي، خو البته ضرور ستاسو د دربار سوالي هم وي.

---

[1]...حدائقِ بخشش، صفحہ:23۔

کاش! چې مونږ ګناهګارو ته هم د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَیْه یو نظرِ کرم نصیب شي نو یقین اوکړئ! چې ټول کارونه به مو سم شي.

| | |
|---|---|
| ادھر بھی نِگاہِ کرم غوثِ اعظم | کرو دُور رَنج و اَلَم غوثِ اعظم |
| ہے گردن میں تیری غُلامی کا پٹہ | تجھی سے ہے میرا بھرم غوثِ اعظم |
| ترا ہوں میں تیرا، مرے اس کہے کا | سر حشر رکھنا بھرم غوثِ اعظم |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په شانِ اولیائے کرام کښې پینځه قرآني آیتونه

د پاره: 29، سورۂ مُرْسَلات ابتدائي پینځه آیتونو کښې **الله** پاک فرمائي:

دا پینځه آیتونه دي، په دې کښې **الله** پاک د پینځؤ څیزونو قَسَم ارشاد فرمائیلے دے:

| | |
|---|---|
| وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ۙ﴿۱﴾<br>فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ۙ﴿۲﴾<br>وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ۙ﴿۳﴾<br>فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ۙ﴿۴﴾<br>فَالْمُلْقِیٰتِ ذِكْرًا ۙ﴿۵﴾<br>(پارہ:29، سورۂ مرسلات:51) | ترجمه [مفهُوم]: قسم دے په هغې کومې چې مسلسل رالیږلے کیږي، بیا په هغې چې کومې انتهائي تیزې چلیدونکې دي او په ښو خوریدونکو باندې، بیا په ښو جُدا کوونکو، بیا په ذِکر اِلقا کوونکو باندې. |

دا پینځه آیتونه دي، په دې کښې **الله** پاک د پینځه څیزونو قَسَم ارشاد فرمائیلے دے:

(1) **مُرسَلَات** (چې مسلسل لیږلے کیږي) (2) **عَاصِفَات** (کومې چې تیزې چلیږي) (3) **نَاشِرَات** (کومې چې ښه خورول کوي) (4) **فَارِقَات** (کومې چې ښې جدا کوونکې دي) (5) **مُلقِیَات** (کومې چې ذِکر القا کوونکې دي)

دا پینځه څیزونه څه دي؟ دا د چا اوصاف دي؟ په دې باره کښې د مفسِّرینو مختلف

اقوال دي، یو قول دا دے چې دا پینځه واړه د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی اوصاف دي د دې قول مطابق به د دې آیت معنٰی څه جوړیږي؟ هغه مشهور مفسِّر قرآن، حکیم الامت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه په مواعظِ نعیمیه کښې په تفصیل سره ذِکر کړي دي، راځئ چې د دې خلاصه واورو:

**(1) وَالۡمُرۡسَلٰتِ عُرۡفًا ۝۱** (قسم په هغې چې مسلسل رالیږلے کیږې) یعني د اولیائے کرامو په هغه ډلو قسم کومې به چې مسلسل تر قیامته پورې رالیږلے کیږي.

ملومه شوه چې: نبّوت اګر چې ختم شوے دے، خوږ نبي، مکي مدني، آخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړے دے، اوس تر قیامته پورې بل نبي نه شي راتلے، البته اولیائے کرام به تر قیامته پورې راځي.[1]

**(2) فَالۡعٰصِفٰتِ عَصۡفًا ۝۲** (بیا په هغې چې کومې انتهائي تیزې چلیدونکي دي) یعني د دې اولیائے کرامو دا شان دے چې دوئي د مخلوق د زړونو خِیرے، د ګناهونو توروالے وغیره داسې لرې کوي څنګه چې تیزه سیلۍ د زمکې نه خزلې او کچره لرې کوي، د اولیائے کرامو د فیضانِ نظر په برکت د عقیدے ګندګي لرې لیږې، اخلاقي ګندګۍ لرې کیږي، کردار ورسره صفا کیږي او باطن ورسره ځلیږي، دغه شان د اولیائے کرامو د نظرِ کرم په برکت د ظاهري جسم بیمارئیانې، غم درد، پریشانۍ هم لرې کیږي.

**(3) وَّالنّٰشِرٰتِ نَشۡرًا ۝۳** (او په ښو خوریدونکو باندې) یعني د دې اولیائے کرامو دا شان دے چې دوئي کوم طرف ته نظر اوکړي، هغه طرف ته د حق جنډه پورته شي، چې کوم طرف ته تَوجُّه اوفرمائي، هغه طرته د اسلام جنډه پورته شي، د سنّتو سپرلي راشي،

[1] ...مواعظِ نعیمیه، صفحه:210-211 خلاصة۔

بےدينه کلمه اووائي او د ايمان د دولت نه مالامال شي، ايماندارو ته د ايمان خوږوالے او د ايمان نورانيت نصيب شي او د اوليائے کرامو په برکت انسان د انواراتو مجموعه جوړه شي.

**(4)** **فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا** (بيا په ښو جُدا کوونکو) يعني د اوليائے کرامو دا ډلې حق او باطل کښې فرق کوونکي دي، اول خو د اوليائے کرامو ذات داسې دے چې د دې په ذريعه په حق او باطل کښې فرق کيږي، ګورئ! حديثِ قُدسي کښې دي: **مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ** څوک چې زما ولي سره دشمني ساتي، زه هغه سره اعلان جنګ کووم. معلومه شوه چې د اوليائے کرامو وجود حق او باطل کښې فرق کوونکے دے، څنګه فرق کوونکے دے؟ داسې فرق کوونکے دے چې څوک دوئي سره مينه لري، يقيناً هغه د حق په لاره دے او څوک چې دوئي سره دشمني لري، هغه هيڅ کله هم د حق په لاره نه شي کيدے، ځکه چې هغه ته خو **الله** پاک اعلانِ جنګ کړے دے او چا ته چې **الله** پاک اعلان جنګ اوفرمائي هغه څنګه د جنت په لاره کيدے شي. لهٰذا د اوليائے کرامو وجود په حق او باطل کښې فرق کوونکے دے. بيا د اوليائے کرامو دا شان دے چې دوئي په کوم طرف ځي، کوم طرف ته چې نظر کوي [هغه طرف ته] د حق جنډه پورته کيږي، د باطل خُله د خاورو ډکه کړي او په حق او باطل کښې فرق کوي.[1]

**(5)** **فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا** (بيا په ذِکر اِلقا کوونکو باندې) يعني اوليائے کرام هغه دي چې [د بندګانو] زړه ته ذِکر الٰهي کوزوي، د اوليائے کرامو تَوجُّه او نظرِ کرم چې اُوشي نو ذِکرالله صرف په ژبه نه پاتې کيږي بلکه زړه کښې راسخ کيږي، بيا بنده ته د لمُونځونو

---

1...مواعظِ نعيميه، صفحه:212-215 خلاصة.

خوند حاصليږي، د تلاوت خوند ورنصيب کيږي، د ګناهونو نه ئې نفرت شروع شي او په نيکيو کښې ئې زړه اولګي.(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو اسلامي وروڼړو! دا پينځه آيات دي، او مونږ واوريدل چې د مفسرينو د يو قول مطابق په دې کښې د اوليائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی اوصاف بيان شوي دي، اوس راځئ چې د دې آيتونو په رنړا کښې د سرکارِ بغداد، حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سيرت پينځه اړخونه واورو:

## د غوثِ پاک د نظر په برکت د ظاهر او باطِن صفائي

الله پاک اِرشاد فرمائي:

فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ۙ﴿۲﴾ (پاره30،سورۂ مرسلات:2) ترجمه: بيا په هغې قَسَم چې کومې انتهائي تيزې چليدونکي دي.

يعني د [هغه] اوليائے کرامو قَسَم! کوم چې په خپل نظرِ کرم او روحاني تَوَجُّه باندې د زړونو خيرے، ګندګي، د بدو عقيدو ګندګي، د بدو اخلاقو ګندګي او د ګناهونو ګندګي لرې کوي او ښکاره بيمارئ، پريشانئ، غم درد هُم لرې کوي.

## غير مسلمه ته ئې کلمه اووئيله او د ابدال مرتبه ئې ورکړه

منقُول دي چې د مُلکِ شام يو ابدال وفات شو (ابدال: د ولايت يوه درجه ده) د رواياتو مطابق په دنيا کښې هر وخت څلويښت ابدالان موجود وي، کله چې په دوئي کښې څوک د دُنيا نه سفر اوکړي نو د هغه په ځائے بل مقرر کړے شي، چنانچه د مُلکِ شام د ابدال وِصال

---

1...مواعظ نعيميه، صفحه:316۔

اوشو) پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستگیر رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فوراً هلته تشريف يوړو، د دنيا نورو ابدالانو هم هلته تشريف يوړو، ټولو په يو ځائے د هغوئي د جنازے لمُونځ ادا کړو، د جنازے لمُونځ ادا کولو نه پس حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه حکم اوفرمائيلو چې د قُسطُنطُنيه فلانکے کافر زما په حضور کښې پيش کړئ. هغه کافر فوراً پيش کړے شو، حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه هغه ته کلمه اووئيله، د هغه ظاهري حُليه ئې د مسلمانانو په شان جوړه کړه او په خپل يو نظرِ کرم ئې هغه د ابدال په مقام باندې فائز کړو او د وفات شوي ابدال په ځائے ئې مقرر کړو.(1)

## بَد اخلاقه هلک توبه اوکړه

حضرت ابو حسن قوّاس فرمائي: يوه ورځ زه او زما سره ډير خلق د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د دِيدار د پاره روان شو، مونږ ټولو د خپلو مشکلاتو او پريشانو د حل د پاره د دعا د درخواست کولو اراده لرله، لاره کښې نور خلق هُم زمونږ سره ملګري شو. په هغوئي کښې يو هلک وو، ما هغه هلک پيژندلو، هغه ډير بد اخلاقه وو، اکثر به ناپاکه اوسيدو. خير! مونږ ټول بارګاهِ غوثيّت طرف ته روان وو. اتفاقاً پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه سره مو په لار کښې ملاقات اوشو، مونږ ټول ورمخکښې شو او سلام هَم ورته اوکړو، يو يو کس ئې لاس ښکلولو هغه هلک چې بداخلاقه وو، کله چې د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه لاس ښکل کولو د پاره ور وړاندې شو نو حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه ترينه خپل لاس مبارک لرې کړو، بيا ئې يو نظر هغه هلک طرف ته اوکتل، د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه نظرِ کرم ئې برداشت نه کړے شو او بے هوشه شو او په زمکه پريوتو، کله چې په هوش کښې راغے نو فوراً ئې د خپلو بدو اخلاقو نه توبه اوکړه، بيا غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه هغه سره لاس ملاو کړو.(2)

---

1...سيرت غوث الثقلين، صفحه: 167۔

2...سيرت غوث الثقلين، صفحه: 175۔

# غل ئې قطب جوړ کړو

یو ځل پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د مدینے مُنَوَّرے نه واپس بغداد طرف ته راروان وو، په لاره کښې ئې یو کس اولیدو، چې په اصل کښې غل وو او په دې انتظار کښې ولاړ وو چې څوک راشي او زه ترینه مال لوټ کړم. پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه چې کله د هغه خواه ته تشریف راوړو نو اوئې فرمائیل: ته څوک ئې؟ غل دروغ اووئیل چې: زه یو کلي وال یم.

الله اکبر! دروغ او هغه هم د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه په مخکښې......! دا د غوثِ اعظم نظر دے چې څه ترینه پټ نه دي حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه چې نظر اوفرمائیلو نو هغوئي ته معلومه شوه چې دا کس ګنهګار دے، بیا پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه اوفرمائیل: زه عبدالقادر یم، بس دا اوریدل وو چې د هغه غل د زړهٔ دنیا بدله شوه، هغه فوراً د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه په قدمونو پریوتو او عرض ئې اوکړو: يَا سَيِّدى عَبۡدَ الۡقَادِر شَيۡئًا لِلّٰهِ یعني، اے زما سردار عبدالقادر! د الله د پاره په ما نظرِ کرم اوفرمائے! پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د هغه په حال غمژن شو، نو دعا ئې اوفرمائیله، کله چې هغوئي دعا اوفرمائیله نو د غیب نه آواز راغے: اےعبدالقادر! دې غل ته سمه لاره اوښایه! او د دهٔ رهنمائي اوکړه او د قُطب په درجه ئې فائز کړه بیا حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه په هغه غل باندې نظر کرم اوفرمائیلو او د ولایت په اعلٰي درجه قُطبیت باندې ئې فائز کړو.[1]

عجب شان یاغوث تیری جَلی ہے | تیری نظر سے چور بنتا ولی ہے

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ غوثِ پاک! دا دے د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د نظر فیضان.....! اوګورئ! د پیرانِ پیر

---

[1]...سیرت غوث الثقلین، صفحہ:130-131۔

غوثُ الاعظم دستګیر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نظرِ کرم سره څنګه د زړونو خیري وینځلے کیږي، د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د یو نظرِ کرم سره غل ولي جوړ شو، بد اخلاقه د ښو اخلاقو والا جوړ شو، او ډیرو ګنهګارو ته د توبے کولو توفیق نصیب شو او د معاشرے نیک انسانان جوړ شو. اوس د **الله** پاک فرمان واورئ، ارشاد فرمائي:

**فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ۙ﴿۲﴾** (پارہ30،سورۂمرسلات:2) ترجمه: بیا قسم په هغې چې کومې انتهائي تیزې چلیدونکې دي.

یعني اولیائے کرام هغه شان والا دي چې د خپل نورِ نظر او نظرِ کرم په ذریعه د زړونو خیرے وینځي، اخلاق و کردار سموي او ګنهګاران د نیکۍ لارې مسافران جوړوي.

## د غوثِ پاک نظرِ کرم او د حق عام کیدل

**خوږو اسلامي وروڼو!** پاره:29، سورهٔ **مرسلات** آیت:3 کښې **الله** پاک فرمائي:

**وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ۙ﴿۳﴾** ترجمه: او په ښو خوریدونکو قسم.

د دې آیت په وضاحت کښې مونږ واوریدل چې د اولیائے کرامو دا شان دے چې دوئي کوم طرف ته تَوجُّه اوفرمائي، هلته د حق جنډه پورته شي. اوس راځئ! په دې ضِمن کښې د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نظر د فیضان په باره کښې واورو:

## پینځه زره کافران مسلمانان شول

پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 521 هجری کښې باقاعده د درس و بیان سلسله شروع کړه او مسلسل څلویښت کاله ئې وعظ و نصیحت فرمائیلو. حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هفته کښې درې بیانونه فرمائیل. حضرت عُمر کیماني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو محفل داسې نه وو چې په هغې کښې به غیر مسلمو کلمه نه وې وئیلې او مسلمانان شوي به نه وي، یا به ګنهګارو توبه نه وي کړې، کله به چې هم هغوئي بیان فرمائیلو نو غیر مسلمه به د بیان نه مُتأَثِّره کیدل او مسلمانان کیدل به او ګناهګارو به

توبه کوله او نیکان به جوړ شول.[1]

پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: زما په لاس د پینځۀ زرو نه زیاتو کافرانو ایمان راوړے دے او د یو لاک نه زیات ګنهګار توبه ګار شوي دي او د نیکۍ لارې مسافران جوړ شوي دي.[2]

## کُرد قوم اسلام قبول کړو

یو ځل پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر شیخ عبد القادِر جِیلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د عراق په یو علاقه کُردستان کښې د نیکۍ د دعوت د پاره تشریف یوړو، څه مریدان هم ورسره وو، دا ټوله علاقه په لکونو کسانو مشتمله وه او هغه ټول غیر مسلمه وو، د طبعیت په لحاظ سره هم ډیر سخت وو، سرکارِ غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د کُرد قوم مرکز ته اورسیدو او د هغوئي غټو سردارانو ته ئې د اسلام دعوت ورکړو د هغوئي د نیکۍ دعوت ئې چې واوریدو نو د کُرد قوم یو عالم رامخکښې شو، هغه کس څه وخت په بغداد او مصر کښې پاتې شوے وو، او د مسلمانانو علماؤ نه ئې څه احادیثِ مبارکه هم اوریدلي وو ، هغه کس پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته اووئیل: آیا ستاسو نبي دا فرمائیلي دي چې "زما د اُمَّت علماء د بني اسرائیلو د انبیاء په شان دي" (یعني څنګه چې د بني اسرائیلو انبیائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام د نیکۍ دعوت عام کولو، د دې امت علماء به هم هغه شان د نیکۍ دعوت عام کوي)

حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې د هغه کس خبره واوریدله نو اوئې فرمائیل: آیا تا ته په دې باره کښې څه شک شته؟ هغه اووئیل: حضرت عیسٰي عَلَيۡهِ السَّلَام چې د بني اسرائیلو نبي دے، هغوئي ته الله پاک دا معجزه ورکړې وه چې هغوئي به مړي ژوندي کول، تاسو د دې امت د

---

[1] ...قلائد الجواهر، صفحه:93۔

[2] ...قلائد الجواهر، صفحه:96۔

علمائے کرامو نه ئې، مونږ به ستاسو خبره هله اُومنو چې کله تاسو مړي ژوندي کړئ، پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه انتهائي اطمينان سره اوفرمائيل: دا خو څه مشکل کار نه دے، تاسو کوم مړے ژوندے ليدل غواړئ؟

بياد کُرد قوم سردارانو پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ځان سره يوے مقبرے ته بوتللو او يو ډير زوړ قبر طرف ته ئې اشاره اوکړه او اوئې وئيل: دا مړے ژوندے ليدل غواړو. پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د هغه قبر خواه ته تشريف يوړلو او اوئې فرمائيل: **قُمۡ بِاِذۡنِ الله** يعني پاڅه د **الله** پاک په حکم! بس د غوثِ پاک دا فرمائيل وو چې قبر کولاؤ شو او مړے د قبر نه بهر راووتو، هغه اول غوثِ پاک ته سلام عرض کړو او بيا ئې پوښتنه اوکړه چې: آيا قيامت قائم شوے دے؟ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اوفرمائيل: نه، قيامت نه دے قائم شوے. ته دې خلقو ته اووايه چې ته د کوم دَور سړے ئې؟ هغه اووئيل: زه د حضرت دانيال عَلَيۡهِالسَّلَام د وخت يم او هم د هغوئې عَلَيۡهِالسَّلَام په دين راته مرګ راغلے وو.

بيا پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هغه ته اوفرمائيل: ته واپس قبر ته لاړ شه! ته به د قيامته پورې هلته اوسيږې. د کُرد قوم سردارانو په خپلو سترګو دا ټول منظر اوليدلو او خبرې ئې هُم واوريدلې، د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه دا ژوندے کرامت ئې چې اوليدلو نو ټولو سردارانو او د هغوئې قوم کلمه اووئيله او مسلمانان شول .(1)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ غوثِ پاک!** دا ده د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه تَوَجُّه، د هغوئې نظرِ کرم او د کراماتو فيضان، چې هغوئې کُرد قوم طرف ته توجه اوفرمائيله، هغوئې ته ئې د نيکئ دعوت ورکړو او د اسلام د رِښتيا کيدلو عملي ثبوت ئې ورکړو نو ټولو کلمه اووئيله او مسلمانان شول.

---

1 …حيات المعظم، صفحہ:152-154 خلاصۃ۔

اوس واورئ د اللّٰه پاک فرمان:

وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًاۙ﴿۳﴾ (پارہ30،سورۂ مرسلات:3) ترجمه: او قَسَم دے په ښو خوريدونکو باندې.

يعني اوليائے کرام هغه دي چې د اسلام جنډه پورته کوي، کوم طرف ته چې تَوَجُّه اوفرمائي هلته د حق جنډه پورته شي او دنيا کښې د اسلام زبردست اشاعت کوي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د شيطاني وسوسو علاج

خوږو اسلامي ورونړو! بعضې خلق چې د اوليائے کرامو داسې کرامات واوري نو په مختلفو شيطاني وسوسو کښې اخته شي، مثلاً وائي: دا څنګه کيدے شي؟ ژوندي کول او مړګ ورکول خو د اللّٰه پاک په اختيار کښې دي، يو انسان څنګه مړي ژوندي کولے شي؟ څوک چې يو ځل مړ شي، د هغه واپس دنيا ته راتلل، ژوندي کيدل خو ممکن نه دي؟

د دې ټولو وسوسو دا جواب دے چې اللّٰه پاک فرمائي:

وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا﴿۲۰﴾ (پارہ:15،سورۂ بنی اسرائیل:20) **ترجمه: او ستا د رب په ورکړه باندې هيڅ بنديز نشته.**

معلومه شوه چې د اللّٰه پاک په ورکړه هيڅ بنديز نشته، اللّٰه پاک چې څومره غواړي، څه غواړي عطا کوي ئې. که اللّٰه پاک خپل يو بنده ته د مړي ژوندي کولو طاقت ورکړي نو د چا څه مجال چې په اللّٰه پاک باندې اعتراض اوکړي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږ هم دا عقيده ده چې د اللّٰه پاک د عطا نه بغير په خپل ذاتي طاقت باندې مړي ژوندي کول خو لرې خبره ده، څوک يوه پاڼړه هم نه شي خوزولے او چې اللّٰه پاک طاقت او اختيار ورکړي نو بنده مړي هم ژوندي کولے شي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته اللّٰه پاک دا طاقت ورکړے وو چې هغوئ به مړي ژوندي کول. اوس څوک شته چې په اللّٰه پاک باندې اعتراض اوکړي؟

## د نيک بنده د غوا برکت

**اللّٰه** پاک قرآن کریم کښې د بني اسرائیلو د یوے غوا ذِکر فرمائیلے دے، د قرآن کریم دویم او د ټولو نه اُوګږد سورت "**سُوْرَةُ الْبَقَرَه**" ته **سُوْرَةُ الْبَقَرَه** د دې غوا د واقعے په نسبت وائي. د واقعے خُلاصه څه داسې ده چې په بني اسرائیلو کښې یو کس قتل شوے وو، دا معلومه نه وه چې قاتل څوک دے، بني اسرائیل د حضرت موسٰي عَلَیْہِ السَّلَام په خدمت کښې حاضر شو، حضرت موسٰي عَلَیْہِ السَّلَام د **اللّٰه** پاک په حُکم اوفرمائیل: یوه غوا ذبح کړئ! بیا بني اسرائیلو ته د هغې غوا اوصاف هم بیان کړے شو. مثلاً هغه غوا د زیړ رنګ والا ده، د هغې په بدن باندې هیڅ داغ نشته، نه بوډئ ده نه ځوانه بلکه درمیانه عُمر والا ده وغیره. بني اسرائیلو د داسې غوا تلاش شروع کړو، آخر د **اللّٰه** پاک د یو نیک بنده او د خپلې مور د فرمانبردار بنده سره داسې غوا ملاو شوه، بني اسرائیلو هغه ذبح کړه، بیا بني اسرائیلو ته حُکم اوشو:

| | |
|---|---|
| **فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا** ؕ<br>(پارہ:1،سورۃالبقرۃ:73) | ترجمه: نو مونږه اوفرمائیل هغه مقتول د دې غوا په یوه ټکړه اُووهئ. |

چنانچه د **اللّٰه** پاک په حکم سره د هغه ذبح کړے شوې غوا د غوښې یوه ټُکړه هغه قتل شوي کس ته اُولګولے شوه نو هغه ژوندے شو او هغه د خپل قاتل نوم اُوښودو.

اوګورئ! د حضرت موسٰي عَلَیْہِ السَّلَام د اُمَّت د یو نیک بنده د غوا د جسم د ټکړے لګولو سره مړے ژوندے شو او دا خبره کوم ځائے بیان شوي ده؟ په قرآن کریم کښې. نو غور اوکړئ! چې د موسٰي عَلَیْہِ السَّلَام د اُمَّت د یو نیک بنده د غوا د یوے تکړے لګیدلو سره مړے ژوندے کیدے شي نو د حضرت موسٰي عَلَیْہِ السَّلَام د آقا، حضرت محمّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمَّت د یو انتهائي نیک بزرګ، سلطانُ الاولیاء یعني حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه د دعا په برکت به مړي ولے نه شي ژوندي کیدے؟ ژوندي کیدے شي، یقیناً ژوندي کیدے شي او مړي خلقو اولیدل چې ژوندي شو نو خلقو کلمه هُم اووئیله دا ټول څه دي؟ د **اللّٰه** پاک عطا ده.

بندہ قادر کا بھی قادر بھی ہے عبدالقادر | سِرِّ باطن بھی ہے ظاہر بھی ہے عبدالقادر

مفتیٔ شرع بھی ہے، قاضیٔ ملّت بھی ہے | عِلمِ اَسرار سے ماہر بھی ہے عبد القادر
ذی تَصَرُّف بھی ہے ماذون بھی مختار بھی ہے | کارِ عالَم کا مُدَبِّر بھی ہے عبدالقادر (1)

**وضاحت:** زمونږ غوثِ پاک عبدالقادر رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه دے يعني د قدرتونو والا ربِّ کريم بنده دے، **الله** پاک هغوئي ته قدرت ورکړے دے، هغوئي د ظاهر و باطن رازدار دي، د شريعت مفتي هم دي، د ملت قاضي هم دي، د باطني علومو ماهر هم دي، **الله** پاک هغوئي ته اختيارات ورکړي دي، هغوئي ته د زمانے د تدبير اجازت هم ورکړے شوے دے

## د غوثِ پاک نظرِ کرم او حق و باطل کښې فرق

**فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ۙ** (پارہ30،سورۂ مرسلات:4) بيا په ښو جُدا کوونکو قَسَم.

د دې آيت معنیٰ مونږ واوريدله چې اوليائے کرام حق او باطل کښې فرق کوونکي وي اوس راشئ چې په دې باره کښې د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير سيرت واورو:

## بدمذهبو توبه اوکړه

شيخ ابوالحسن قرشي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د 559 هجرى واقعه ده چې د بدمذهبو يوه لويه ډله د حضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې حاضره شوه، هغوئي سره دوه ټوکرئ وے، چې خُلې ئې بندې وے، هغه بدمذهبو د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه نه پوښتنه اوکړه: اووائې چې! په دې ټوکرو کښې څه دي؟ حضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه خپل بصيرت (يعني باطني نظر) سره معلوم کړل او يوه ټوکرئ باندې ئې لاس کيښودو او اوئې فرمائيل: په دې کښې يو معذوره ماشوم دے بيا هغوئي خپل ځوئ عبدالرزاق رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه ته اوفرمائيل: د دې ټوکرئ خُله کولاوه کړه! د ټوکرئ خُله چې کولاوه کړے شوه نو په هغې کښې واقعي معذوره ماشوم وو،

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:69ملتقطاً۔

پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په هغه ماشوم باندې خپل لاس مبارک کيښودو او اوئې فرمائيل: قُم بِإِذۡنِ الله! د الله پاک په حکم اودريږه......! بس دا وئيل وو چې د هغه ماشوم معذوري ختمه شوه او هغه صحيح سلامت اودريدو، بيا غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په دويمه ټوکرئ باندې لاس کيښودو او اوئې فرمائيل: په دې کښې تندرسته ماشوم دے. کله چې ټوکرئ کولاوه کړے شوه نو واقعي په هغې کښې تندرسته ماشوم وو، د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه دا ژوندے کرامت ئې چې کله اوليدو نو هغه ټولو بدمذهبو د خپلو بدو عقيدو نه توبه کړه او ريښتوني عاشقانِ رسول جوړ شو.(1)

ايمان اس کا بچ گيا شيطان سے، جو تيرے | ہے سلسلے ميں آ گيا بغداد والے مرشد(2)

## غير مسلمه کلمه اووئيله

نقل شوې دي چې يوه ورځ پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په يوه محلّه تيريدلو، نو اُوئې ليدل چې يو مسلمان او غير مسلمه خپل مينځ کښې جنګ کوي، غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د جنګ ختمولو د پاره د هغوئې خواه ته نزدے تشريف يوړو او تپوس ئې ترينه اوکړو: ولې جنګ کوئ؟ مسلمان عرض اوکړو: عالي جاه! دا غير مسلمه وائي چې زمونږ نبي حضرت عيسٰى عَلَيۡهِ السَّلَام ستاسو د نبي حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه افضل دے.

دا ئې چې واوريدل نو حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه غير مسلم ته اوفرمائيل: ستا سره څه دليل دے چې حضرت عيسٰي عَلَيۡهِ السَّلَام زمونږ د نبي نه افضل دے؟ عيسائي اووئيل: زمونږ نبي حضرت عيسٰي عَلَيۡهِ السَّلَام به مړي ژوندي کول. حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: زه خو نبي نه يم، خو که زه مړے راژوندے کړم نو آيا ته به زمونږ د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه اووائې

---

[1] ...قلائد الجواہر، صفحہ:137-138۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:546۔

او مسلمان به شي؟ عیسائي اووئیل:آو، زه به مسلمان شم.

پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه هغه غیر مسلمه ځان سره قبرستان ته بوتلو او اوئې فرمائیل: وایه! څوک ژوندي کول دي؟ هغه غیر مسلمه یو زوړ قبر طرف ته اشاره اوکړه، حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د هغه قبر خواه ته تشریف یوړو، په هغه قبر باندې ئې نظر اوفرمائیلو او اوئې فرمائیل: قُمۡ بِاِذۡنِیۡ پاڅه زما په حُکم. بس دا وئیل وو چې قبر کولاو شو او مړے راپاڅیدو. د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه دا ښکاره کرامت ئې چې اولیدو نو د هغه غیر مسلمه په زړهٔ کښې د ایمان رڼړا روښانه شوه او کلمه ئې اووئیله او فوراً مسلمان شو.(1)

عیسیٰ کے معجزوں نے مردے جِلا دیئے ہیں | مُحمّد کے معجزوں نے مسیحا بنا دیئے ہیں

سُبۡحٰنَ الله! اے عاشقان غوثِ پاک! تاسو اوکتل! یوه خالص علمي مسئله چې د هغې په باره کښې یو مسلمان او غیر مسلمه جګړه کوله، حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د خپل کرامت په ذریعه دا واضحه کړه چې زمونږ نبي، رسول هاشمي د ټولو انبیائے کرامو نه افضل و اعلیٰ دے.

خلق سے اَولیا، اَولیا سے رُسُل | اور رسولوں سے اعلیٰ ہمارا نبی (2)

دلته دا خبره یاده ساتئ چې ټول انبیائے کرام په مخلوق کښې د ټولو نه افضل و اعلیٰ دي او د نبي کیدلو په اعتبار سره ټول انبیاء برابر دي. خو د انبیائے کرامو خپل مینځ کښې مختلفې درجې دي، دا خپل مینځ کښې یو بل باندې فضیلت لري او زمونږ نبي، رسول هاشمي ټولو انبیائے کرامو کښې افضل دے. الله پاک ارشاد فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| تِلۡكَ الرُّسُلُ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ ۘ | | **ترجمه:** دا رسولان دي مونږ په دوئي کښې یو ته په بل باندې فضیلت ورکړے دے، په دوئي کښې چا سره |

1...حیات المعظم، صفحه:174۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:138۔

| | | |
|---|---|---|
| **اللّٰه** كلام فرمائيلے دے او څوک هغه دے چا ته ئې چې په ټولو باندې په درجو اوچتوالے ورکړے دے. | | مِنۡهُمۡ مَّنۡ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعۡضَهُمۡ دَرَجٰتٍ ؕ (پارہ3،سورۃالبقرۃ:253) |

په دې آيت كښې د انبيائے كرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام خپل مينځ كښې په يو بل باندې د فضيلت لرلو بيان دے. تفسير **صِراطُ الْجِنان** كښې دي: نبي كيدلو كښې ټول انبيائے كرام برابر دي، اصلِ نبوت كښې د دوئي په مينځ كښې فرق نشته. خو مرتبے ئې جُدا جُدا دي، په خصائصو او كمالاتو كښې ئې فرق دے، درجے ئې مختلفې دي، بعضې د بعضو نه اعلٰي دي او زمونږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه اعلٰي دے.(1)

سب سے اولیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی | سب سے بالا و والا ہمارا نبی
ملک کونین میں انبیا تاجدار | تاجداروں کا آقا ہمارا نبی
انبیا سے کروں عرض کیوں مالکو! | کیا نبی ہے ہمارا تمہارا نبی (2)

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد　　صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب!

## (4) د غوثِ پاک نظرِ كرم او په زړهٔ كښې د اللّٰه پاک ذِكر پيدا كيدل

پاره:29، سورهٔ **مرسلات** پينځم آيت كښې ارشاد دے:

فَالۡمُلۡقِيٰتِ ذِكۡرًا ۙ﴿۵﴾ ترجمه: بيا قَسَم د ذِكر اِلقا كوونكو.

د دې آيت معنٰي مونږه اوريدلي وه چې اوليائے كرام د خلقو په زړونو كښې ذِكر اچوي يعني د اوليائے كرامو په صحبت كښې د ناستې او د هغوئي د نظرِ كرم په بَرَكت د هغوئي په توجه سره زړه كښې د ايمان نور زياتيږي، د ايمان خوږوالے نصيب كيږي، عبادت كښې زړه لګي، زړهٔ نه د ګناهونو خيرے او ګندګي لرې كيږي، زړه په ذِكر او فكر كښې مشغول شي او د **اللّٰه** پاک په

---

1... تفسير صراط الجنان، پاره:3، سورة البقرة، زيرآيت:253، جلد:1، صفحه:379-380۔
2... حدائقِ بخشش، صفحه:138-140 ملتقطاً۔

ذِکر آباد شي.

## د شیخ شهابُ الدِّین سُهَروَردي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه واقعه

د سلسلۀ سُهَروَردِیه عظیم پیشوا [عُمر] شیخ شهاب الدین رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د ځوانۍ په ورځو کښې ما د علم کلام وئیلو ډیر زیات شوق لرلو، ما د دې علم ډیر کتابونه حفظ کړي هم وو، زما ترۀ به د دې علم لوستلو نه زه منع کولم خو ما ته دا علم ډیر زیات خوښ وو، لهٰذا زه به د دې علم د کتابونو لوستلو نه نۀ قلاریدم.

**د علمِ کلام وضاحت**: علم کلام د عقائدو په باره کښې علم ته وائي، په دې علم کښې د اسلام او نورو مذهبونو متعلق بحث کیږي، علمِ کلام ښه علم دے بلکه یو حده پورې علمِ کلام زده کول فرضو علومو کښې هُم شامل دي، خو په دې علم کښې زیات مشغولیدلو کښې خطره دا ده چې کله کله انسان په دې علم کښې د زیات مشغویدلو په وجه بدمذهبه شي بلکه بعضې وخت په کفر کښې اخته شي.

خیر! شیخ شهاب الدین سُهروردي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې یوه ورځ زما ترۀ زه ځان سره کړم او د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په خدمت کښې حاضر شُو. زما ترۀ زما طرف ته اشاره اوکړه او عرض ئې اوکړو: حضور! دا زما ورارۀ عُمر دے، دا د علمِ کلام کتابونه لولي، زه دې منع کووم خو نه منع کیږي، زما د ترۀ خبره ئې چې واوریدله نو حضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه زما طرف ته متوجه شو او اوئې فرمائیل: تا د علمِ کلام کوم کوم کتابونه حفظ کړي دي؟ ما د کتابونو نومونه بیان کړل.

پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحْمَةُاللهِعَلَيْه زما په سینه باندې لاس مبارک راښکلو نو زما نه د علمِ کلام خبرې داسې هیرې شوې لکه ما چې کله هډو یادې کړي نه وي. په **الله** پاک مې دِ قسم وي! حضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه چې زما په سینه لاس راښکلو نو صرف د علم کلام نه ئې زما سینه خالي نه کړه بلکه د علمِ لَدُني (یعني د **الله** پاک ورکړي شوي خاص علم) نه ئې زما

سینه ډکه کړه.

اے عاشقانِ غوثِ پاک! دا ده د دې آیت معنیٰ فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ترجمه: بیا د ذِکر القا کوونکو قَسم.

یعني د اولیائے کرامو ډله په زړونو کښې ذِکر و فکر اچوي، لکه څنګه چې غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه د شیخ محمد عُمر شهاب الدین سهروردي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه سینه په خاص رُوحاني نظر سره د ذِکر و فِکر او عِلم نه ډکه کړه.

| | |
|---|---|
| جو ولی قبل تھے یا بعد ہوئے یا ہوں گے | سب ادب رکھتے ہیں دِل میں مرے آقا تیرا |
| مزرعِ چشت و بخارا و عراق و اجمیر | کون سی کِشْت پہ برسا نہیں جھالا تیرا(1) |

**وضاحت**: اے زما آقا غوثِ اعظم شیخ عبدالقادر جیلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه! کوم اولیاء چې ستا نه مخکښې وو، او چې کوم به وروستو راځي تر قیامته پورې ټول ستاسو ادب کوونکي دي، **چِشت**، بُخارا، عراق، اجمَیر هر ځائے ستاسو د فیض و بَرَکت باران وریږي، او ټول هُم ستاسو نه فیض حاصلوي.

## چا چې څه طلب کړل ورئې کړل

شیخ محمد بن محفوظ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه بیان کوی: یو ځل ډیر زیات مشائخ د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه په خدمت کښې حاضر وو، حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه اوفرمائیل: خپل خپل حاجتونه بیان کړئ، چاته چې څه پکار دي، ورته ملاویږي به.

موقع د غنیمت وه، ټولو مشائخو خپل خپل حاجتونه بیانَول شروع کړل، چا عرض اوکړو: زه د مجاهدے (یعني په نیکئ کولو کښې د ډیر زیات کوشش کولو) طاقت غوارم. چا عرض اوکړو: زه

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:25-26۔

د خوفِ خدا طلبګار يم، چا عرض اوکړو: زه خپل وخت **محفوظ** کول (يعني ذِکرالله کښې مشغوليدل) غواړم، چا عرض اوکړو: زه په علم کښې اضافه غواړم. شيخ خليل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عرض اوکړو: زه قطب جوړيدل غواړم، شيخ ابوالبرکات رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عرض اوکړو: زه د **الله** پاک په مينه کښې ښه ډيره اضافه غواړم. شيخ ابوالفتح رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عرض اوکړو: زه د قرآن کريم او حديثِ رسول حافظ جوړيدل غواړم.

دغه شان ټولو خپل خپل حاجتونه بيان کړل، کله چې ټولو عرض اوکړو نو پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبدالقادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: مونږ د ټولو په حاجتونو کښې د ټولو مدد کوو.

شيخ ابوالخير رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: په **الله** پاک مې دِ قسم وي! په هغه **مجلس** کښې چې چا څه غوښتي وو، هغه ورته ملاو شو شيخ حَضرمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چا چې د قرآن حفظ کولو تمنا کړې وه، **الله** پاک هغه ته توفيق ورکړو او هغوئي په شپږو مياشتو کښې پورا قرآن کريم حفظ کړو. دغه شان شيخ جميل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چا چې عرض کړے وو چې زه خپل وخت **محفوظ** کول غواړم (يعني هر وخت په ذِکرالله کښې مشغول اوسيدل) غواړم، هغوئي هُغه درجے ته اورسيدو چې هر وخت به ئې تسبيح په لاس کښې وې او په **ذِکر الله** کښې به مشغول وو، تر دې پورې چې کله به قضائے حاجت د پاره تللو نو تسبيح به ئې يو ميخ ته زوړندې کړې او د هغه تسبيح دانے به پخپله اوريدلې.

سُبۡحٰنَ الله! دا دے:

**فَالۡمُلۡقِيٰتِ ذِكۡرًا ۙ** ترجمه: بيا د ذِکر القا کوونکو قسم.

يعني د اوليائے کرامو شان دا دے چې د خلقو په زړونو کښې ذِکر اچوي.

در پر جو تیرے آ گیا بغداد والے مرشد | مَن کی مرادیں پا گیا بغداد والے مرشد[1]

## د غوثِ پاک د نظرِ کرم حاصلولو طريقے

اے عاشقان رسول! مونږ د حضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه د نظرِ کرم، د هغوئی د روحاني تَوَجُّه او د نیکئ دعوت ورکولو وغیره یو څو برکتونو اوریدلو سعادت حاصل کړو. یاد ساتئ! اولیائے کرام د دنیا نه تشریف وړلو نه پس هُم اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د خپلو غلامانو مدد کوي، مشکلات حل کوي او نظرِ کرم کوي او دا ټول د **الله** پاک د عطا کړے شوي طاقت په ذريعه وي، ځکه چې د **الله** پاک د عطا نه بغير په خپل ذاتي طاقت هيڅ څوک يوه پانړه هم نه شي خوزَوَلے.

## صَلٰوةِ غوثيه کوئ......!

خير! مقصد دا دے چې که نن هم څوک د زړه د اخلاصه حضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه ته د نظرِ کرم فرياد اوکړي نو پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه توجه فرمائي پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: چا چې په څه مصيبت کښې ماته فرياد اوکړو، هغه مصيبت ئې لرې شو، چا چې په سختئ کښې زما نوم واخستو، هغه سختې ترينه لرې شوه، څوک چې زما په وسيله د **الله** پاک په بارګاه کښې خپل حاجت پيش کړي هغه حاجت به ئې پوره شي، څوک چې دوه رکعته نفل لمونځ اوکړي او په هر رکعت کښې اَلحَمدُ (يعني سُوْرَةُ الْفَاتِحَه) نه پس قل هوالله احد (يعني سورهٔ اخلاص پوره سُورت) يوولس ځله اووائي، د سلام نه پس په حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود شريف اووائي، بيا د بغداد شريف طرف ته يوولس قدمه واخلي او زما نوم واخلي او خپل حاجت بيان کړي، اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! هغه حاجت به ئې پوره شي.

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ: 545۔

نوټ: د پاک و هِند طرف نه بغداد شريف د مغرب او شمال تقريباً بالکل مينځ کښې دے. دې لمُونځ ته غوثيه لمُونځِ او صلوةُ الاسرار وائي. حضرت علامه مُلّا علي قاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ډير ځله د غوثيه لـمونځ تجربه کړې ده، بالکل صحيح اوختله (يعني هره پيره زما مقصد پوره شو).

حُسنِ نیّت ہو خطا پھر کبھی کرتا ہی نہیں | آزمایا ہے یگانہ ہے دوگانہ تیرا[1]

**وضاحت**: دا خبره تجربه شوې ده چې په اخلاص سره غوثيه لمُونځ اوکړے شي نو ناکامي نه کيږي بلکه د کوم مقصد د پاره چې اوکړے شي هغه مقصد پوره کيږي.

## (۲) قصيده غوثيه لولئ......!

خوږو اسلامي ورونړو! د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه روحاني توجه او د هغوئي د نظرِ کرم حاصلولو د پاره يوه طريقه د "قصيدهٔ غوثيه" وِرد دے عاشقِ غوثِ اعظم، اميرِ اهلِسنت د قصيده غوثيه متعلق فرمائي: دا قصيده مبارکه د حضور سيدنا غوث الاعظم، محبوبِ سبحاني، قُطبِ رباني، شيخ عبدالقادر جيلاني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ژبې مبارکې نه ادا شوي دي او زمونږ سلسله عاليه قادريه کښې دا وِرد د دولتِ ظاهري او باطني د حصول سبب دے. د دې 28 اشعار دي. د دې قصيدے ورد روزانه ډير زيات مفيد دے. د دې قصيدے مبارکې ورد د قُوتِ حافظه د پاره ډير مفيد دے.

د دې قصيدے وِرد کوونکي ته به په عربي وئيلو کښې بصيرت حاصليږي. د هر مشکل او سخت کار د پاره ئې روزانه خلويښت ځله لولئ. کوم کس چې دا قصيده مبارکه خپلې مخې ته کيږدي او درې ځله ئې اولولي نو مقبولِ بارګاهِ غوثيت به شي او د حضور سيدنا غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ديدار نه به مشرَّف شي. ان شاءاللهُ الکريم!

---

[1]...حدائقِ بخشش، صفحہ:20۔

شيخِ طريقت امير اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَہ د ډېر ښکلي او انتهائي اهم کتاب: مدني پنج سوره په صفحه: 263 کښې دا قصيده درج ده.

## دولسو ديني کارونو کښې يو کار: هفته واره اجتماع

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په زړه کښې د عشقِ رسول زياتولو، فيضانِ غوثِ پاک، فيضانِ داتا و خواجه، فيضانِ اعلٰي حضرت، فيضانِ اولياء نه لمَن ډکولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوت اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ! د ذيلي حلقے دولسو مدني کارونو کښې د زړه د اخلاصه ډيره ډيره برخه اخلئ! او د دين و دنيا خير حاصل کړئ. د ذيلي حلقے دولسو دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: هفته واره اجتماع هم ده.

تاسو هم هر جمعرات خپل ځائے کښې کيدونکې اجتماع کښې د اول نه تر آخره پورې شرکت کوئ! اَلْحَمْدُ لِله! د دعوت اسلامي د سنتو ډکو اجتماع ګانو کښې بعضې وخت حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نظرِ کرم فرمائي: چنانچه

## د نسخهٔ بغدادي مدني سپرلے

د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې: ما ته د سالانه يوولسمې په موقع باندې د دعوت اسلامي له طرفه کورنګئ کښې کيدونکي اجتماعِ ذِکر و نعت کښې د حاضرئ سعادت رانصيب شو، د سنتو ډک بيان په دوران کښې "بغدادي نسخه" بيان کړے شوه، د بيان نه پس په سلسلهٔ عاليه قادريه رَضَوِيَّه کښې د بيعت کولو سلسله شروع شوه هم په دې دوران کښې په ناسته ناسته زه اُوده شوم، د سر سترګې مې چې خنګه بندې شوې نو د زړهٔ سترګې مې اُوغړيدلې! څه ګورم چې د يوولسمې ځوان پير دستګير غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جلوه فرما دے او خادر مبارک ئې خور کړے دے، ما خادر اونيولو ماته داسې محسوسه شوه چې نورو خلقو هم خادر نيولے دے خو څوک نه ښکاري! د مائيک نه راتلونکي آواز مطابق ما د بيعت الفاظ

اووئيل، کله چې د بيعت سلسله ختمه شوه نو ما هِمَّت اوکړو او بارګاهِ غوثيت کښې مې عرض اوکړو: يامرشد! زما د زوجه اميد دے او ډاکټر د اپريشن وئيلي دي. تاسو کرم اوفرمائے! ارشاد ئې اوفرمائيل: کومه بغدادي نسخه چې اوس بيان کړے شوه د دې مطابق عمل اوکړه، او واوره! ستاسو کور کښې به دوه ماشومان بغير د آپريشن نه پيدا کيږي، د يو نوم حَسّان او د بل نوم مُشتاق کيږده، د دواړو په خټ به زما قدم وي، زه چې کور ته لاړم د نسخۀ بغدادي يوولس کجورې مې ښځې ته ورکړې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! کجورو خوړلو سره زما د ښځې تکليف لرې شو او په **الله** پاک مې دِ قسم وي! زما په کور کښې دوه ماشومان پيدا شول، ما د مرشد پاک د فرمان مطابق د يو نوم حَسّان او د بل نوم مُشتاق کيښودو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيل: مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِيْ فَلَهٗ اَجْرُ مِائَةِ شَهِيْدٍ يعني د امت د فساد په وخت کښې چې کوم کس زما سنتو باندې مضبوطئ سره عمل کوي هغه ته به د سلو شهيدانو ثواب ملاويږي.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دعا کول سنت مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي

**دوه فرامينِ مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ دعا د مومن وسله ده.[2]

**اے عاشقان رسول!** دعا غوښتل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي زمونږ خوږ آقا محمد

---

1...زُہد کبیر، صفحہ:118، حدیث:207۔

2...مسند ابی یعلی، جلد:2، صفحہ:123، حدیث:1812۔

مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به کثرت سره دعا غوښتله.

بعضو محدّثينو د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو دعاګانو متعلق پوره پوره کتابونه ليکلي دي مثلاً د خوراک کولو دعا، د اوبو څښلو دعا، د اوده کيدلو دعا، د خوب نه د راپيداريدلو دعا، د شودو څښلو دعا، د جامو اغوستلو دُعا. غرض دا چې زمونږ خوږ آقا محمد مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د روزمره کارونو نه مخکښې هم دعاګانې لوستلې. نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دا دعا لوستله: [1]

| | |
|---|---|
| رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً (پاره:2،سورة البقرة:202) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: اے زمونږه ربه! مونږ ته په دنيا کښې هم خير راکړې او مونږ ته په آخرت کښې هم خير را کړې. |

د روزمره دعاګانو زده کولو د پاره مدني پنج سوره، صفحه: 182 تا 227. لولئ، د سُنَّتو زده کولو د پاره بهار شريعت حصه: 16، او د امير اهلِسنّت ډير زيات ښکلے کتاب 550 سُنَّتيں اورآداب مطالعه کړئ.

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ

[1] ...بخاری، کتاب:الدعوات، صفحہ:1574، حدیث:6389۔

الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْھُم حیران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵